
دبیوسی مرگی
جانان می لاړو مسافر شو
دبیوسی مرگی پرې راغلو مړبه شینه
Ketabton.com
ترتیب کوونکی:ثناوالله توحیدیار

ketabton.com - The Digital Library

## ➢ زما په اړه

**په اړه مې:**

**زه ثنا والله توحید یار له وړوکتوبه مې د شعر او لیکوالي سره مینه درلوده او هڅه کوم خپل احساسات او تجربې له خلکو سره شریک کړم دژوند په ډیرو سختو ډګرو**

**کی پاتی راغلی یم خو بیا می هم ماتی نه دی خوړلی او همیشه می خپله مبارزه جاری ساتلی ځکه شاعر وایی**

**چی غوټی پسی وهی په لاس به درشی**

**چاویل چی په دریاب کی ګوهر نشته**

**دژوند دډیرو سختو حالاتو سره همیشه په مبارزه کی یم ځکه انسان باید هیڅ وخت هم خپل همت له لاسه ورنکړی او په دی لاره کی هیڅ خنډ هم ونه منی**

**شخصي ځانګړتیاوي**

**زه تل هڅه کوم خپل مهارتونه نور هم پراخ کړم او خلکو ته مثبته انرژي ورکړم.**

**اړیکه**

**[sanaullahfarhad07@gmail.com ایمیل**

**واتس اپ: ۹۸۹۳۹۲۶۳۸۴۳۷] تیلیګرام ۹۸۹۳۹۲۶۳۸۴۳۷]**

**نور معلومات**

ketabton.com - The Digital Library

6

په دی کتاب کی می درته دغم ځپلو مینانو دزړه اواز په ټپو لنډیو اوبیتونو کی راټول کړی دی انشا الله تعالی ددی او ددی کتاب راتلونکی برخه به هم دوخت په تیریدو درته اماده کړو

که څوک غواړی چی لیکنی شعرونه او معلومات یی داپلیکشن یاهم دکتاب په بڼه ورته جوړ او خپور کړو نو زموږ سره په تماس کی سی

ستاسو د همکاریو په هیله

ketabton.com - The Digital Library

دبیوسی دوران به تیرشی 😭

هیربه می نشی خپل نیمګړی ارمانونه 😓🙄😭

نه می دیدن شی نه می صبر 🙄

په غم لړلی یارانی سترِی دی کړمه😭💘

چی می بیغوره یار خبرېږی💘

په ما به جوړ وی توروخاورو امبارونه😔

په نیمه شپه روژه بهانه کړی 😒

په شونډو لاس کیږدی چی نه یی درکومه😧

په تادی هیڅ نه کیږی یاره 😭□

تادی رب واخلی چی خبره خلاصه شینه😭💔

تیر به شی وختونه یادونه به دی پاتی شی😓😧

جوړ به شی زخمونه خو داغونه به دی پاتی شی💔💘

ketabton.com - The Digital Library

خپل نصیب می په مثال دتوری شپې دی ▯ 😭

توره شپه چې صبا کیږی زه به نه یم 😥

دزړه پرسر می ازغی مات شو 💘

نه یی راکښنای سم نه یی درد زغملی سمه 😭 😓

ما په نصیب موندلی یاره 🥺

دکلی خلک دی رانه ولی بیلوینه 😥

اخیر به توره شپه صبا شی 😔

یاربه رانشی ما به مړ له غمه کړینه 😓 🥺 😥

ketabton.com - The Digital Library

دروژه ماتی وخت کی راغلی

زه روژه ماته کړم که تاته وګورمه

ملنګه دوی ګټې دی وکړی

یو دی خیرتول کړو بل دی وکړو دیدنونه

ددروازی ملنګ ته وایه 💔💘

جام سره مه نیسه دپیغلو مړوندونه

دا دروازی ملنګہ پاسہ❤️

اوس به دی سپینی جامی سری پہ وینو کمہ❤️❤️

دا خوب نہ پاسہ ځوانی  مرګہ🌹

خولګی مے واخلہ زه پہ غلا راغلی یمہ🌹

ketabton.com - The Digital Library

غریبی څه لوبی دی وکړی
زه دی یارانو له سیالی ویستلی یمه

لالیه تانه ګیله نه کړم
زما ګیله به له غریبی ورځی وینه

مسافری دی نوره بس که
تورو کمسیو کی می سپین ولګیدونه

دومره یوازی یم لالیه
که مړکیدم سترګی به څوک راپټوینه

سترګی په تلوکی راستنی کړه
دبیا راتلو دلاسا راکړه کنی مرمه

ketabton.com - The Digital Library

ماسره غم په نیمه واخله

❤️مه په راستی درته جانان وایلی دی نه💔💔💔

محبت که دښایست محتاجه نه وے

زلیخا به په یوسف مینه نه وه

په روژه ماتی یار میلمه شو 💝

کجوری نشته اوس به شونډی ورکومه😳

شونډی یی راکړی ماناری کړی چی روژه می لاړه 😘

هغی ویل چپ شه مړه هسی هم شکی روژه ده

خوله می دخولی دپاسه کښیږده 😔

چپه می پریږده چی ګیلی درته کومه😔

اور دی زما په ځوانی بل کړو

بیوفا ما درسره څه بد کړی دینه

ښه ده چی تالرمه خدایه

زړه ته نږدی خلکو یوازی پریښودمه

دوکه دی وکړه ځان دی خلاص کړو

زه دی دژوند په لار یوازی پریښودمه

دزړه ازار می ورپسی شه

ډیر می په نیمه شپه ژړلی دی مینه

انجلی خبره یی که نه یی

فرهاد ملګری لټوی په سفر ځینه

ketabton.com - The Digital Library

که دوطن زیږ مازدیګر می نصیب نشو
داپردیس تور ماښامونه خومی خپل دی

مینه می کوله خو بیلتون ته می هیڅ پام نه وو
ماپکی ټول عمر دځوانی هسی برباد کړلو

داسی دی مات کړمه جانانه
واپس چی ځان راټولوم قیامت به وینه

چاچی په خپله په ځان کړی
نه دی ګیله کړی نه دی اوښکی تویوینه

دبیوسی باران وریږی توحیدیاره
دامیدونو چتری ستنی ماتوینه

ketabton.com - The Digital Library

مسافری ته خفه نه یم

په دروازه کی ستا سلګی رایادی شینه

غیرتی یوه ښځه دی ښه ده

دبیغیرتو که لښکروی ورک دی شینه

زما دزړه نه خدای خبر دی

جانان زما په حال خبرکړه چی رازینه

ته په پیسو مین یی یاره

وطن ته راشه زه په تا مینه یمه

ماله د ډنډ نه ختړه راوړه توحیدیاره

داوسنی زمانی یار تری جوړومه

ketabton.com - The Digital Library

له پټو زړونو خبرداره
پروردګاره لیونی ورپسی شومه

ګیله دخپل سړی نه کیږې
ته زما څه یی چی ګیلی درنه کومه

مازدیګر کور ماښام په لاری
خدایه دلاری مل می راولی چی ځمه

عالمه اخوا شی لارراکړی
زه می فرهاد لالی ته غاړه ورکومه

چی لمر ډوبیږی تیاره کیږی
زه چی تانه وینه تیاره راباندی شینه

ketabton.com - The Digital Library

ما په نصیب موندلیه یاره

د خلکو خولی دی رانه ولي بیلوینه💔🥺

ستا دیدن پسی مي دوه سترګی څلور سوی😥

تــه راځـــی کــه زه د تل لپاره لاړ شـــــــــم

❤️🩹💔😢

بی وسی توره وی کہ سپینہ

جنان می زی زه پہ بلی ولاړه یمہ

په نصیبه می پراته وه

چیرته زما نازک بدن چیرته غمونه

لاړم دخپل وطنه لاړم

بیوفا یار راباندی ډیر کبر کوینه

ketabton.com - The Digital Library

داوربل تکی می سپین کیږی
تاپه پردی وطن کی څه لیدلی دینه

یاره دزړه نه راته ګران یی
راشه قسم په پیر بابا درته کومه

ستا خو پروانشته لالیه
ستا خاموشی می دزړه وینه وچوینه

چی ماخوستن شی زړه می تنګ شی
برستن کفن شی اندامونه می سیزینه

دیار ښکنځل دګل ویشتل دی
بد یی خندل دی چی دبل سره کوینه

ketabton.com - The Digital Library

لکه کابل دافغان حق وی
داسی می حق دی دجانان دزلفو سرونه

په خوله به سل ځله تا هیر کړم
دابیغیرته زړګی تل تا یادوینه

که ورکوی ورته می ورکړی
سپینی پکړی راپسی ځی خونړی شومه

شونډو می وچ پتری نیولی
ستا دبیخونده یاری تاو پری تاوومه

په پلار می بله جرګه اوکړه
که دریی نکړم په زومبی چربانګ به ځونه

کوزدن پرشوی واده پري مه شی

په کور زړه شی ګورته یوسی ارمانونه ب

دمرګ اوژوند څه پته لګي

نن می په دواړه مخه ښکل کړه درنه ځمه

صبابه بیا بازارته لاړشی

بنګړي مي تور غوښتل تاشنه راوړی دینه

دبیلتون زور راته معلوم شو

په میړی قدم نږدم یاربه یی وینه

هغه ده لاړه پناه کیږی

پناه یي مه شه دسور شال سره پلوونه

ketabton.com - The Digital Library

دقوم ښکلا دقوم رهبره

داستا غیرت ته سلامی ولاړه یمه

زما قیدی جانان ته وایه

په انتظار کی درته تږی ناسته یمه

بی غیرتی می کړی نه وه

دوخت ظالم ته لکه غرولاړه یمه

په تا دی هیڅ نه کیږی یاره

په مادی وشی زه په تا اباده یمه

بیلتون دی داسی احساسیږی

لکه چی ګوتی دروازی کی ګیری شینه

ketabton.com - The Digital Library

زما قیدی جانان ته وایه
چی پښتونخوا درباندی بیا وکړل ننګونه

خواته دی یم قدر می نکړی
که درنه لاړم بیابه وکړی ارمانونه

که خدای کول وار به می راشی
ناچاره ژونده اوس دی هره یوه منمه

زړه می په داسی چا مین دی
نه یی دیدن شته نه می زړه صبر کوینه

ښځه په هرسړی کونډیږی
سړی هغه دی چی پری خاوره کونډه شینه

ketabton.com - The Digital Library

سترګی می ستا لاری ته ګوری
اوښکو می وران کړل دنری زنی خالونه

خاموشی اوښکی اوپه سترګوکی ایثاری سلګی
جار دزړه درده په هنر همر دی وخوړمه

ملا نکاح کی قسم ورکړه
په اوسنو جینکو نشته اعتبارونه

نه به داستا زړه په قرار شی
نه به زما مینه په بل چاماته شینه

دزمانی فالګره مړشی
بی وخته ګوری دځوانانو نصیبونه

ketabton.com - The Digital Library

نور خو یی هیڅ ویلی نه دی
داستا پیغوریی راکوه په ژړا شومه

لالیه تېنګه غاړه راکړه
دبیلتانه سیلی راځی مونګ بیلوینه

اول دی وو اخیر دی نه وو
په نیمه خوایاری دی زه پښېمانه یمه

دیارانی قیمت دی وایه
که دپلارجان میراث می ځی تیاره یمه

په تور ماښام دی غاړه راکړه
دمرګی هیره شی چی نه دی یادوینه

ketabton.com - The Digital Library

خبری لنډی لنډی وایه
مورمی میره ده په لالا می مړکوینه

زما اوستا دنصیبونو ستوری نه یوکیږی
ټولی وعدی دی اور پسی کړه ماته زهرراکه

زما په شورکی زړه تنګیږی
خو دبنګړو شور پکی نه حسابومه

راشه زما په خواکی کینه
که خوند یی درکړو صبا بیا راشه مینه

ته لکه یوسف رانه ورک شوی یی
زه لکه یعقوب درپسی ړوند شومه

ketabton.com - The Digital Library

🥀زړه مې په داسي چه مئين دى

نه ئې ديدن شته نه مې زړه صبر کوينه🙁 🥀

داستا ارمان وو ما پوره کړو

داستا لپاره مى راوړى زيړګلونه

دګلو لښته مى ګڼلى

دللمى بوټى دازغو دى ډکه کړمه

بى صبره يارته مى نارى کړى

ياردى سفرته روانيږى ملاتړينه

دزړګى زور مى پاتى نه دى

ياره کيسى دى لنډوه سترى دى کړمه

ketabton.com - The Digital Library

صبا به ستا ایمان معلوم شی
پلار دی دسرسودا دبل سره کوینه

پیغلو له غره نه ګیږدی راوړل
په سره غرمه ځوانان له خوبه پاڅوینه

باران دی نور هم په شیبو شی
دیار دیدن له به دپنجو پر سر ځمه

باران دی نور هم په پنجو شي
که ودریږی جانان خپل کلی ته ځینه

باران دی نورهم په پنجو شی
ښایسته یار می نن پرڅنګ دی رانه ځینه

ketabton.com - The Digital Library

ماماشومتوب لیدلی نه دی
زه خپل غربت لوبو ته چیرته پریخودمه

دځوانی ژونده مه تیریګه
ماته یوښکلی دیاری ویلی دینه

خاطر دی ډیر راباندی ګران دی
دچا دوړاندی سترګی نه دراړومه

یو لیونتوب بل مینتوب وو
کله به ته کله به زه مرور شومه

ډیری زاری می ورته وکړی
په زړه ظالم جانان یوه نه قبلوینه

ketabton.com - The Digital Library

د ځوانۍ ونه مې زړه شوه

د صبر ونه به مې اوس نیسي ګلونه

😭بیلتون ته وایه لاس دی خلاص دی 💔

❣️یار دی جداکړو نور دی سه پرواه لرمه😥

کله کله د راغلي یار له اړخه

ځو راغلي پیغامونه سړي وخوري

🙂↕️

مراور یار نه پخلا ګیګی🌷

اوس به سپین ږیری په جرګه ورته لیږمه🥰

هغه زما له قصده اوس دچاسره اوسیګی

هغه زما له قصده یاره بل چاته واده شوه

ketabton.com - The Digital Library

مینه دی کړه صبر دی نه وو

اوس دبیلتون دردونه وزغمه زه څمه

چاپه غم چاپه قرار کی شپه کړه تیره

چا د یار په انتظار کی شپه کړه تیره

دچاټول بدن از غو سوری سوری کړ

چا د ګلو په ګلزار کی شپه کړه تیره

لکہ چی بیا دی زړه بایللی دی او بیا میئن پی 😢

🥺چی پہ سندرو کی ګیلی کوی دا چاتہ کوی 💔

دغه ښبرا به درته وکړم

نصیب دی مه شه په بیغمه زړه خوبونه

ketabton.com - The Digital Library

کله کله خپل قسمت ته په ژړا شم

کله وخاندم چی خیر دی وخت به تیر شی

دقبر دعذاب قیصی دی سترړی کړو ملا

دژوند دبد امنی په دی عذاب خبره وکړه

دجدایی اول ماښام وو

اذان شروع زه سلګو نیولی ومه

پیشمنی می دا یار پہ شونډو وکو 🥰😝

کہ می سل کال روجہ وی پروا نشتتہ😝

په تور لحد کي به ناري کړم 🙄

ویده به ویخ کړم ویخ به خوب ته نپریدمه💔😭

ketabton.com - The Digital Library

ورکه دکور کلی یاری شه
دزنی سرمی دیوال کندی کنه

زما دزړه زور یی اوبه کړو
دزورورو په نصیب ورسیدمه

دنیابه ستا له سره جار کړم
ستایو دیدن په درست جهان نه ورکومه

زه به تری ولی نه زاریږم
جانان چی ټول کلی پریږدی ماله راځینه

په زړه کی ډیر راباندی ګران یی
ناخبریاره تاته نه وایم حالونه

ketabton.com - The Digital Library

جانان می ځی زه ورته ګورم
وس می دخدای په چارو نه رسی مینه

ټوپک سینګار دزوانی نه دی
دپښتنو سره قلم مزه کوینه

یا داشناکوځی ملنګ وای
یازوړ ملا وای چی می لوستی کتابونه

وار به دی تیر شی لونګینه
مدام به نه وی دسینی پرسر ټالونه

که زه خبر وای چی تابیایی
مابه تصویر درنه دشپی ویستلی وونه

ketabton.com - The Digital Library

څه ليوني وختونه تير شول
څوک رانه هير شول دچا زه هيرشوی يمه

سنګه ناڅاپه رانه لاړی
داسي ناڅاپه دی خدای راوله مینه

مازدیګری دی ښیری مه کړه
ته به دناز ښیری کوی رښتیابه شینه

ته به ولاړیی بل به یار کړم
داستا له قصده به یی تړول نازونه وړمه

په دوعاګانو به دی وژنم
زما په خوله تاته ښیری کله راځینه

ketabton.com - The Digital Library

چیری دی سترګی کړی بدلی
چیری دی وکړلو دصبر تعویذونه

لالی دی خپله خوښه وکړی
په تلو یی نه یم دبی ننګو کار کوینه

که تری بیلیږم نو ورکیږم
ژوند ته می داسی څوک راغلی دی مینه

مخی له مه راځه شرمیږم
پته خبریږم چی ماتاله درکوینه

زه خوشخبری درکوم یاره
پلار می رضاشو مور می تاته درکوینه

ketabton.com - The Digital Library

غم دی زما شو ته دبل شوی
شیرینه یاره زه دچا ورسیدمه

لالی دی توری کوډی وکړي
کنی په خپله رضا خوله نه ورکومه

وه په ټپه مینه یاره
دزړه خبری په ټپو کی درلیږمه

ته راته سر په زنګون کیږده
زه به قیصی دسوی زړه درته کومه

نه می دیدن شته نه می صبر
په غم لړلی زندګی سترې دی کړمه

□😢زما د ویخو شپو احساس به درته هله اوشی
💔□□😢کله چی ته په چا مین شی او پوښتنه دی
ونکړی💔□

لړکوټې کم شه ده یار غمه..
اباسین هم په څه موده کمي کوینه🙄🙄

💔په جنازه کی می شریک شه🙄
😭چی دلحد مړی پیغور نه راکوینه💔

چی نصیب می په دنیا ورسره نه وو.
🕊ربه ولی دی مین په داسی مخ ګړم. 💔

خدای دی زما کړه خوږه یار
چی دی په ځنګ کی لکه حوره ناسته یمه 😥

مینه دزړه په سترګو کیږی
مخامخ سترګی پیغلی ژر ژر بدلوینه

په مادی مرګ راپوری نه دی
سترګی دی واړوه ستی ستی دی کړمه

په زړه می څه بلا تیریږی
عالم ته روغه په خنداولاړه یمه

په یارانی پښیمان ته وایه
زه دی دسر صدقی اوس هم ورکومه

نه څوک وو نه می پکار سو
دونی پاڼه وم ګرنګ ته پریوتمه

ketabton.com - The Digital Library

دلته هره پیغله ځانګه ده دګلو
دلته هرزلمی لونګ دی محترمه

اسمانه لارراکړه درخیژم
ځمکی پرسرمی یارراکړی جوابونه

په اینه کی په ژړا شوم
بدرنګه نه وم په نیستی یی پریښنودمه

جانانه راشه که دیدن کړی
وروستی طبی راپسی ړدی پناه یی کړمه

دزلیخا خوبونه ستاوو
لکه یوسف دی بی ګناه تهمتی کړمه

ketabton.com - The Digital Library

تابه دمینی رنګ کی رنګ کړم.
لکه لونګ به دی په غاړه ګرزومه

نه مې داغ شته په زړګي نه په لمنه
بدنام داسې یم چې مه کوه پوښتنه

مجبورۍ وه ما به ځان کړو ملامته
تا به نه منله خــپله تــېروتنه

💔نه می خدای اونه مخلوق پکی رازی که...
ژوند عبث لکه دډمی محفل تیر شو.💔

یوه مي دا خبره واوره
چي نر سړي به د دله د لاسه مرینه 😒

ketabton.com - The Digital Library

دچا په سترګو پسی ړوند په سترګو
دچا دیدار پسی می زړه ځوریږي

تر نیمی شپی پوری رانغلی
په مادی سپی په مازدیګر تړلی دینه

خلګو هندیانی په نکاح کړی
زما کافرلالی په خوب کی نه راځینه

خبری لنډی لنډی وایه
دلاری سردی څوک به ځی څوک به راځینه

جانان نادان دی غاړه غواړی
په دی روژه کی غاړی چا ورکړی دینه

ketabton.com - The Digital Library

: 😭ته یو ماښام رانه خفه تللی وې 😭

😭اوس هر ماښام راباندې تبه راځي 😭

خبری لنډی لنډی وایه

دلاری سردی خلګ نور ګمان کوینه

وعده دی وکړه بیارانغلی

بیګاه می ټوله شپه نوکان خوږلی دینه

دالزامونو ډکه یاره

تا پسی بدی ګنګوسی دی غلی یمه

دنګه دی ونه دنګه غاړه

جانانه دواړه دی زما دخوښنی دینه

ketabton.com - The Digital Library

ما په تهمت ګڼلی یاره

تهمت زما شو ته دبل شولی مینه

زما په تهمت ګڼلی یاروو

تهمت یی زما شو یار دنورو خلکو شونه

زما په تهمت ګڼلی یاره

داستا تهمت سره به څنګه ژوند کومه

زما په تهمت ګڼلی یاره

داستا تهمت می دمرګی په سیلاب وړینه

زما په تهمت ګڼلی یاره

تهمت زما شو خوله وبل ته ورکوینه

ketabton.com - The Digital Library

داانتظار داشوګیری چیرته
زه مړکیدمه ته راتلی چیرته

ګلی دګلی غوندی نه دی ګنه
هغه یاران هغه حجری چیرته

سترګی به څوک راپټوی دزکندن په وخت کی
تاپسی وکړمه ناری چیرته

تاپسی یاره نور بیحده زوریدلی یمه
یو خبر راکړه چی راځی که نه راځی چیرته

ته دبل شوی غم دی زما شو یاره
داستا دغم پیټی پیټی زه وړمه اوته یی چیرته

ketabton.com - The Digital Library

خالی به پاتی شی وطنه
ځوانان روان دی درنه کډی باروینه

مخ دی کابل خال پیښوردی
زنه دی کوټه کندهار رایادوینه

په وعده کلک درته ولاړیم
موسم خونه یم چی رنګونه بدلومه

ناز به دی ورم نازدی چلیږی
دزورورو اوبه تل په لوړه ځینه

جانانه چیرته رانه لاړی
داستا لپاره د لوګر لاری څارمه

په کیسو پسی دی بل رکم خفه
ورک لالیه نن می بل رکم یادیږی

په یو ذهنی عذاب دی واړولم
زما لتانه داسی طمعه نه وه

دی حالاتو می خرابه حافظه کړه
فرض لمانځه ته هم تړم دجنازی نیت

ketabton.com - The Digital Library

تورہ شپه کی ورته ټول رازونه وایم

بی دلیله په سپوږمي باندی مین یم

چا حوصله راکړه اوچامو حوصله ولیده

ملنګه موږ ډیره بی درده زمانه ولیده

کله کله یی اواز پسی خفه شم

کله کله می یادیږی یار بیحده

ketabton.com - The Digital Library

کیسه زما دمحبت فرهاده

چی شپه لری سنګه به سخر نلری

پــه مــوږ څـه کـوئ د حُسن ســوداګره

مــوږ بــدرنــګـه بــی هنــره بی دولـتـــه

بنـګړي نیم ښکته کړه نیم پورته

چې په خالي مړوند دې سر ولګومه.🥰

زړه می له ټولی دنیا تور دی

سوال دمرګی راته کوه چی خاوری شمه

ketabton.com - The Digital Library

په صبر صبر مې زړه شين شو

نور مې دصبر طاقت نشته وبه مرمه

چې خط مې وايه ورته ژاړه

ماچې ليکل ورته مې ډير ژړلې دينه

ketabton.com - The Digital Library

په دیدن دومره دمه وشی

لکه رنځور په امسا واخلی قدمونه

دجینکو مکاره خویه

لوګی بهان کړی ژړا یار پسی کوینه

یادی نصیب راسره وشه

یامی په عرش کی پاڼه زیره شه چی مړشمه

عمر برباد درباندی تیرشو

دا باقی عمر زه په مرګ حسابومه

دپیغلو زړونه پولادی دی

یویار یی مړوی بل ته سترګی توروینه

ketabton.com - The Digital Library

ښکاري چې ځواني لاړه بوډا شومه
نرم خوراک سخت راباندې ولګي

اوزه چې هر څومره خواري ځان باندې وکړمه
ښکلې شم خووخت راباندې ولګي

ketabton.com - The Digital Library

دنصیب جنګ دی څه به کیږی
دلیونی سره می روغه نه راځینه

دمازدیګر زیړیه لمره
په روغو وایه درنځورو سلامونه

په مازدیګر کی مین مه شي
دمازدیګر رنګونه لمر زیړکړی دینه

زما جانانه توحیدیاره
یاخو راشه یابه مړ درپسی شمه

ketabton.com - The Digital Library

دستنی سوم کی مخ ښکاره کړه

لکه یعقوب پیغمبر ړوند درپسی شومه

دقبر خواکی ورته ناست یم

یار مرور دی راته نه وایی حالونه

جانا په هيڅ نه رضا کيږی

ددرغجن ملادی ورک شی تعویذونه

پر میسینجر یی میسیج راغلو

هرڅه می هیر سول حیران ودریدمه

که سړی ډیر په زړه محکم وی

چی داشنا له غیږی ځی ژړا ورځینه

زما جانان که سم سړی وای

زه به دبل ډولی ته ولی ورختمه

ما وفادار ګڼلی یاره

دکوڅی ماره په تڼکی دی وخوړمه

ketabton.com - The Digital Library

څوک مې لیدو پسې ړندېږي
چا مې مرګې ته صدقې منلې دینه

داخل مې یارته سلام وایه
داورته وایه زړه مې تاپسې نور چوینه

لوګر ته لاړشه ورته وایه
دکندهارې لالې دې ړره چوې مینه

لوګرته لاړشه ورته وایه
دکندهارې لالې فریاد راوستې یمه

لوګر ته لاړشه ورته وایه
دکندهاریانو جفا چالیدلې دینه

😓سه مې جوند زړې زړې شو😭
😱😱سه مې په کم عمر کې ولیدل غمونه😥

ته په جومات کښې هم په ځان هم په ایمان یریږې
زه میخانه کښې ځان ساتمه له ایمانه سره

په ژړا ژړا مې زړه شو درنه صبر ..💔
آوس که جوړ راته جنت شی نه دی غواړم ... 😭

صفــتونه بـــه زما هــم بلا واورې
صبر وکړه چې په خاورو کې خو پټ شم 💔🥺🍂
🥀په میلمنی جینی مین شوم🥀
💔نه مې دا زان کره نه یې خلاص د غم شومه

ارمان به هلته زما در شي
چې مې د سخات پیسو ته ونیسې لاسونه
😭💔💔

ketabton.com - The Digital Library

**روغ به له روغو سره ناست وی.**

**په زړه زخمی به چیرته بیل له خلکو وینه.**

ketabton.com - The Digital Library

ماتہ پہ سترگو کی خال وایہ
دہ خولی خبری دی خواگی دی مڑ بہ شمہ

سوک زما غوندې خراب نشته ملګري
حساب ده دي چی حساب نشته ملګري

څه په سختو لارو کې دې ګیر کړم
څه دمستې ځوانې تاب دې رانه واخیست

څه کم اصله او کم ذاتو ته محتاج شوم
ژونده څرنګه حساب دې رانه واخیست
🌱😔🍁

اوس می پہ هیچا نہ راسیگی
بی غمہ یارہ خیری خپل زان تہ کومہ

دہ جنت ہوری بہ پریگدم پہ جنت کی
دہ دوزخ نہ کہ آواز دہ جانان راغی

ketabton.com - The Digital Library

❤️🔥... وخت چی تیریگی غم ڈیریگی ... ❤️🔥
❤️🔥... نہ پورا کیگی دہ بدبختو ارمانونہ ...❤️🔥

ہر سہ می یاد وو چی درتلم خو دا می نہ یادیدل
چہ پہ دی لارہ خو بیگاہ زہ مرور تلے ووم

پہ نصیب کی می بیخی خوشالی نشتہ 🥺💔
کلہ کلہ پہ خپل زان باندی خفہ شم💔😭

مینہ هغو سرہ کوہ چہ سی احساس خو لری
زڑگیہ ہر انسان پہ مینہ باندی سہ پوهیگی
💔💔💔💔💔

نصیبه ډیر درنه خفه یم
کله می ځان کړی کله غواړمه خیرونه

مسافر ټول وطن ته راغلو
یایار خفه دی یا له قصده نه راځینه

ketabton.com - The Digital Library

مسافر مه وژنه خاونده

په زکندن کی دوطن ارمان کوینه

په نیمه شپه کی می سلګی دی

جانانه ستا له غمه نه راځی خوبونه

دبیوسی ناری می وکړی

پری پردی وو خپلو بړغ کله کوونه

سترګی دی مړی راواړولی

لکه خزان دی یاره پاڼی پاڼی کړمه

ketabton.com - The Digital Library

په خوله ټپه غزل مصــــــرۍ شه

ژوند دې د مېنې او مـــــــزې شه

لړ مې زړګې ته رانيـــــــزدې شه

رباب وهې ګـــــوتې دې پرې شه

د بام په ســــــــر درته يواځې ناسته يمه

🌸✨

ketabton.com - The Digital Library

ده تشی خولی مئین دی نہ یم
پہ سختہ ورز بہ درنہ زان قربانہ ومہ

ارمان بہ وکی وخت تیر وی
خلک بہ ڈیر وی سوک بہ لاس نہ درکوینہ

ده دعا چل دی رانہ هیر کڑو
مئین دی ڈیر شہ چی خیری درتہ کوینہ

زما نصیب کی جانان نشتہ
خلقہ زما پہ نصیب مہ ٹڑی شرتونہ

ketabton.com - The Digital Library

څراغ راواخله رڼا وکړه
صبا به وایه چی ماخوب لیدلی وونه

په کبرجن لالی مین یم
اوس چی ګیلی راته کوی خنداراځینه

دسر له سترګو می پناه یی
دزړه په سترګو به دی تل دیدن کومه

په مادی کړی څه بلاده
دقدم خاوری دی په جیب کی ګرزومه

خلک مجبور شی وطن پریږدی
زه داشنا دلاسه بل وطنه ته ځمه

ketabton.com - The Digital Library

دنیمی شپی بیداره اوسه

ددروازی زنځیر به ورو ورو صرنګومه

په زړه دی غبرګ لاسونه کیږده

زه می دخپلی کوزدی زیری درکومه

مینه دی کړه په سترګو ړوند شی

بیلتون دی نه لیدو چی غرونه ړنګوینه

د بیلتانه ماښام مي وژني

له ژونده تللي خلک ولي نه راځینه

💔□□

تللي لاليه يو ځل راشه

دا ستا را پاتي تصوير نيمه وخوړمه

دمحبت باران دی وشی🤲

چی له دی توروزړونو یوسی نفرتونه

ځوانی می لاړه راشه زرکړه 😔

زلیخا نه یمه چی بیابه پیغله شمه🥺

بارانه لس ورراز ی واریگہ ❤️❤️

نہ می غنم شتہ او نہ دا یار دیدان تہ زمہ❤️❤️

باران وریږي کوټہ څاڅی🌹

زه کټ پہ اوږه گرزاوم تایادومہ🌹

خدایہ دښکلو باران اوکړی

چی عاشقانو لہ تری اوتږم دمونه

ketabton.com - The Digital Library

نصیبہ ڈیر درنہ خفہ یم

زه دی پہ سمہ لگووم لگی پہ غرونو

جانانه راشه راپخلاشه

نور مې دزړه ستنی کږی درپسی دینه که

راځی نو یاره راشه

دتوحیدیار زړګی دی خاوری ایری کړونه

جانانه لاړشه خدای دی مل شه

داستا په یاد کی به نورهم تیرکړم کلونه

توحیده ورک چی رانه نشی

دا د بیغوره یاری درد می ژړوینه

ketabton.com - The Digital Library

بارې دی نه کوم شرمیږم

دلری لری تماشه به دی کوومه

بیلتانه وسوم غم ایره کړم

خوښه دباد ده چی په کوم طرف می وړینه

زما ځلور ځانګی جانانه

دهری ځانګی دی جولی جولی ګلونه

پیغلتوب نیمه پادشاهي ده

ورک ناویتوب شه چی دوه نیمې ورځی وینه

په نوم یی زه بدنامه ګرځم

جانان چی بله خوښه وی دله به وینه

هندوان دمرګ نه پس سیزل کړی

زه مسلمان لالی په ژوند سیزلی یمه

دجدای عمر دي ډیر شو

نور مي نو چاپ کړله داستا ټوله عکسونه

ketabton.com - The Digital Library

**ترتیب کوونکی : ثناوالله توحیدیار**

**راټوولوونکی : ثناوالله توحیدیار**

**زموږ دواټساپ شمیره :+989392638437**

**989392638437 زموږ ټلیګرام:+**

**ایمیل ادرس :**

**sanaullahfarhad07@gmail.com**



## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*